


د ملي دفاع وزارت خپره نیز ارکان

سال ۱۴۴۴هــ ق ۱۴۰۲هــ ل | سرطان میاشت / ذوالحجة الحرام میاشت | سال تأسیس ۱۲۹۹هــ ش

# ... سرلیکنه

د ګران افغانستان زړوره او اتله اسلامی ملی اردو چې د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا، خپواکۍ، ملی حاکمیت، اسلامی او ملی ارزښتونو دفاع او ساتنې پیاوړې او محوري ځواک په توګه دندې په زړورتیا، لوړ مورال او پوره جګړایز چومتوالی ترسره او په هډمنه توګه ادامه ورکوي.

اسلامی ملی اردو چې د یو دفاعی مرکزي ځواک په حیث د اسلامي امارت د رهبرۍ د لارښونې او د ملي دفاع وزارت د پالیسو او تګلارو په رڼا کې جوړه شوې، ورځ په ورځ پیاوړې او انکشاف کوي، اوس مهال په یوه پیاوړي ځواک بدله شوې چې د دښمن د احتمالي ګوښونو د دفع طرد او مخنیوي توان لري.

اسلامي ملي اردو د تیر یو نیم کال کې خپلې وړتیاوې ښودلې، اړوند دندې په فعاله توګه ترسره او د چټک غبرګون په تریخ کې د سولې او ثبات د دښمنانو هغوی شوم پلانونه چې لرل، له منځه وړي دي، له همدې امله یې د خپل ولس پراخه ملاتړ او حمایت ځان سره لري اسلامي ملي اردو چې په لیکو کې د هیواد د ټولو قومونو او قشرونو باتورو بیچان راټول شوي د هیواد پالنې په روح، در ایت، میړانه او سربندنې خپلې اسلامي، ملي او وطني دندې تر سره کوي.

د همدې دندو د ښې او فعالې اجرا په خاطر د ښونې او روزنې نقش او ارزښت ته دامداره او جدي پاملرنې کوې، ظرفیتونه یې لوړ او د هغې تسلیحاتي، لوژستکي، اکمالاتو او سمبالښت چارې ګام په ګام ادامه لري.

دا خبره ټولو ته واضیح ده چې د اسلامي ملي اردو د جوړښت او راتلونکي انکشاف په لاره کې د دیني علماوو شتون، پوځې دوکتورین، تشکیلات، ښونه او روزنه، اسلحې، تخنیک او لوژستکي عینات او اړوند پرسونل موجودیت یو بل سره جوړونکي اړیکې لري او د ځواکونو د جګړایز چمتوالي ...او مورلال د لوړتیا، اوسپینز د سپلین، متینې سوق او ادارې، تخصصي او مسلکي وړتیاوو په برخه کې مهم او ټاکونکی نقش لري.

څرنګه چې اسلامي ملی اردو د پوځې دوکتورینو په بسټ ایجاد او د هغه له مخې وده کوي او د هغه اړوند دندو په اجرا ... پدې دوکتورینو کې مندریجې دندې ترسره او ادامه ورکوي نو ځکه مهم ګڼل کیږي چې د اسلامي ملي اردو منسوبینو د خپلو زده کړو، ښونې او روزنې په پروسه کې نوموړې اهداف او وظایف درک او د اجرا په لاره کې نه ستړې کیدونکې هڅې او هاند وکړي.

دا ریښتیا خبره ده، په هره اندازه چې ځواکونو ښونه او روزنه او اغیزمنه وي، د پرسونل مورال لوړ او د وطن پالنې روحي یې پیاوړې، او مسلکي وړتیاوې زیاته وي چې پدې صورت بې له شکه اړوند دندې او مسولیتونه اجرا او د دښمن نه شي کولی چې د خلکو ارام ژوند ته ګواښ رامنځته کړي.

پوځې جګړ ایز او تاریخي تجروبو ښودلې چې د منظمې اغیزمنې مسلکي او تخصصي ښونې او روزنې او جګړایز قعالیتونو تر منځ مستقمې اړیکې وجود لري له همدې کبله ټولو ته ښایي چې د پلان او پروګرام سره سم د ښونې او روزنې پروسه مخکې یوړول شي او پدې ارزښناکه او جوړه ونکې پروسه کې د تولو کټګوریو ګډون او ګټه اخیستنه اغیزمن او جوړ ونکی نقش لري.

څرنګه چې د اسلامي ملی اردو د منسوبانو ښونه او روزنه د ملی دفاع وزیر او د لوی درستیز د لارښونو او اوامرو د ښونې او روزنې د پلان او پروګرام پر اساس تنظیم او پیاوړو او مجربو استادانو له خوا مخکې وړل کیږي، له همدې امله باید د دې ارزښناکې او مهمې پروسې ته په تحصلي موسسو، تعلمي مرکزونو قتعاتو او جزو تامونو کې همیشنی پاملرنه واړول شي، د دې پروسې ... تنظیم او په خپل وخت اجرا د پرسونل د جګړایز چمتوال، مسلکي وړتیا او په وظایف د ستر بریا ضمانت کوي.

پخواني پوځې متل دی(په تعلیم ډګر کې د خولو تویول د جګړې په ډګر کې د ووینې د تویودو مخه نیسي) په یقین سره چې دوامدار او پلانیزه مسلکي، تخصصي، او جګړایزه ښونه او روزنه د ورځنیو دندو او چګړایزو فعالیتونو د چټکې او اغیزمنې اجرا په لاره کې مهم اوټاکونکې فکتور ګڼل کیږي او د یو ځواکمنې اردو د ودې زمینه برابر وي

## عنوانونه:

د عملونو پر بدلې باور لرل...............................................۲ص

فرمان عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله تعالی..........۲ص

د مجاهد خاطرې.........................................................۲ص

اعداد داسلام له نظره........................................۳ص

لید لوری.........................................................۳ص

# لیدنې

## د ملي دفاع وزارت د تکنالوژۍ او لوژستیک معین د جاپان له ځانګړي استازي سره وکتل

د ملي دفاع وزارت د تکنالوژۍ او لوژستیک معین د جاپان له ځانګړي استازي سره وکتل

د ملي دفاع وزارت د تکنالوژۍ او لوژستیک معین مولوي محمد ظریف "مظفر او ورسره مل پلاوي د افغانستان لپاره د جاپان له ځانګړي استازي کانسوکي "ناکاتوکا" سره په داسې حال کې چې د جاپان سفیر تاکاشي "اوکادا" یې ملتیا کوله د ملي دفاع وزارت د بهرنیو اړیکو په ریاست کې وکتل. په دغه کتنه کې د تکنالوژۍ او لوژستیک معین نوموړي پلاوي ته راغلاست ووایه او د جاپاني پلاوي له لوري د افغانستان له خلکو په ملاتړ او د بشر دوستانه اړیکو په لرلو کې له دوی څخه مننه وکړه.

همدا راز جاپاني پلاوي د اسلامي امارت له لوري د امنیت په تأمین، د مخدره موادو او اداري فساد په وړاندې د مبارزې ستاینه وکړه.

په پای کې دواړو لوریو د دوامداره ښو اړیکو په لرلو ټینګار وکړ او بېلابېلو برخو کې یې هر اړخیزې خبرې وکړې.

## عیادت لوی درستیز قوای مسلح از زخمی های انفجار بدخشان

عیادت لوی درستیز قوای مسلح از زخمی های انفجار بدخشان

حافظ محمد فصیح الدین "فطرت" لوی درستیز قوای مسلح کشور از مجروحین حادثه المناک بدخشان در شفاخانه ۴۰۰ بیستر دیدار و از آن ها عیادت نمود. لوی درستیز قوای مسلح ضمن دلجویي از زخمی ها به آنان از بارگاه خداوند آرزوی شفای عاجل و کامل نمود و صبر جمیل به خانواده های شان استدعا کرد. هم چنان؛ به داکتران موظف هدایت داد تا در قسمت تداوی مجروحان از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ ننمایند.

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوْا أَطِيْعُوا اللهَ وَ أَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَأُولِى الأَمْرِ مِنْكُم. الآية**

**اې مؤمنانو! د الله او رسول پیروي وکړئ او د خپلو امیرانو اطاعت وکړئ.**

**السمع و الطاعة حق مالم یؤمر بالمعصیة فاذا أمر بمعصیة فلاسمع ولا طاعة. الحدیث**

**د امیر امر اوریدل او منل حق دي ترڅو چې د ګناه امر یې نه وي کړی او که د ګناه امر یې وکړ نو بیا یې مه اورئ او مه یې منئ.**

## مجاهده وروره!

د علم د زدکړې عجیبه موکه الله تعالی درته مساعده کړې، د مدارسو، مکاتبو او پوهنتونونو دروازې ستا پر مخ خلاصې دي، ته کولی شې شرعي او ګټور عصري علوم په ډېره اسانۍ سره ترلاسه کړې او خپل مظلوم ولس ته د ستر خیر مصدر وګرځې. الله تعالی په قرآن مجید کې فرمایي: نو ولې له هرې ډلې ټاکلي خلک ونه وتل، ترڅو په دین کې پوهه ترلاسه او کله چې د خپل قوم په لور وګرځيږي هغوی هم ترې خبر کړي، ترڅو هغوی هم ځانونه له بدیو نه وژغوري. التوبة ۱۲۲حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه وایي: څوک چې د علم مجالسو ته سهار او بیګا تګ جهاد نه ګڼي د هغه عقل او رایه ناقصه ده.

جامع بیان العلم وفضله لابن عبد البر

# رواني چارې

## د پاکستان د دفاع وزیر څرګندونو ته د اسلامي امارت د ویاند غبرګون

د ذوالحجې په ۲۷ مه نېټه د پاکستان دفاع وزیر خواجه محمد آصف په پاکستان کې د وروستیو بریدونو په تړاو یوې مشهورې رسنۍ ته په مرکه کې وویل: د دې بریدونو تړاو په افغانستان پورې دی او پلان یې هم په افغانستان کې جوړیږي.

د نوموړي دې څرګندونو ته د افغانستان یو شمېر سیاسي شنونکو او د رسنیو فعالانو توند غبرګون وښود، او پاکستان یې په دې تورن کړ چې له ډېره وخته یې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه کړې ده.

خواجه آصف همداراز وویل: افغانستان باید د دوحې تړون ته ژمن پاتې شي.

د نوموړي دې څرګندونو ته په غبرګون کې د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد حفظه الله له بي بي سي راډیو سره په مرکه کې وویل: موږ د دوحې تړون له امریکا سره کړی دی، له پاکستان سره مو نه دی کړی، موږ له پاکستان سره د دوحې تړون په رڼا کې نه بلکې د یو مسلمان او ګاونډي ورور هیواد په توګه مثبت تعامل کوو او دا د دواړو هیوادونو په ګټه بولو، خو دا چې ځینې مهال په پاکستان کې امنیتي پېښې وشي نو د دې پر ځای چې د ستونزو داخلي عوامل ولټوي د عامه ذهنیت بدلولو لپاره په نورو هیوادونو پړه ور اړوي.

موږ خپله خاوره کنټرول کړې، د چا په ضد یې کارولو ته نه پرېږدو او په دې اړه مو دوی ته ډاډ هم ورکړی دی، خو کله چې د امنیتي پېښو په مخنیوي کې پاتې راشي نو بیا دا ډول څرګندونې کوي، موږ مشوره ورکوو چې د ستونزو حل دې د خپل کور دننه ولټوي، خپل امنیتي ارګانونو ته دې د خپل امنیت ساتلو لپاره لارښوونې وکړي او په موږ دې پړه نه اړوي.

## ۸۰ تن مجاهد از قول اردوی ۲۰۵ البدر فارغ شدند

به تعداد ۸۰ تن مجاهد پس از فراگیری آموزش های نظامی، مسلکی و عقیدتی امروز در مراسمی از مکتب تعلیمی حضرت سعد بن ابی وقاص "رض" لوای سوم ابودُجانه قول اردوی ۲۰۴ البدر فارغ شدند.

مراسم فراغت این منسوبین با اشتراک مسولان قول اردو، بزرگان و سایر مجاهدین برگزار گردید.

به گفته ی مسؤلان، این مجاهدین پس از پایان دوره ابتدایی و به منظور ارتقای ظرفیت در مرکز تعلیمی قول اردو به تعلیمات شان ادامه خواهند داد.

## د ۲۰۷ الفاروق قول اردو نوی ځانګړی اصدار خپور شو

**د ملي دفاع وزارت د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو ریاست له لوري قدرمنو هیوادوالو ته د لوی اختر د را رسېدو په مناسبت له ۲۰۷ الفاروق قول اردو څخه ۶۱ دقیقې نوی ځانګړی اصدار خپور شو. نوموړی اصدار چې په نویو نظامي تکتیکاتو او حرکاتو سمبال وو پکې نوی مانورونه نظامي حرکات، ځانګړي مهارتونه په عملي ډول هم ترسره شول دغه یو ساعته ځانګړي اصدار کې جم نظام، د ملي اسلامی اردو په عقیدوی فکري او مسلکي ډول روزلو بېلابېلې کماندويي صحنې او همدارنګه داسې نوي او زړه راښکونکي تکتیکات او عملي رمایي ترسره شوې او ټولو هیوادوالو ته یې دا وښودله چې د ملي اسلامي اردو زړور او با شهامته ځواکونه د متعال خدای ﷻ په کامل نصرت او پخپل ټول قوت سره د خپل هیواد له ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت څخه په کلکه دفاع ته چمتو دي او هیڅوک نه پرېږدي چې د نظم اخلال رامنځ ته کړي. دغه اصدار د ملي دفاع وزارت په رسمي پاڼو او ټولنیزو ادرسونو کې ( ټوییټر، وېبپاڼې، یوټیوب او ټلګرام ) چینلونو کې په لوړ کیفیت سره نشر ته وسپارل شو.**

فراخوان: مدیریت تنظیم انسجام اشتهارات و تبلیغات ریاست ارتباطات ستراتیژیک و امورعامه وزارت دفاع ملی ا.ا.ا از علاقه مندان محترم تقاضا میدارد تا با شریک ساختن مطالب، مضامین، مقالات، دل نوشته ها و سایر موارد قلمی شان، در غنامندی نشریات چاپی وزارت دفاع ملی با ما سهیم شوند. شماره تماس: ۰۷۰۱۰۷۴۳۵۰ یا ۲۶۷۱۴۳۴

## د عملونو پر بدلې باور لرل

ابواسماء (رض) وايي: يوځل ابوبکرصديق رض پيغمبر) ص) سره د غرمې ډوډۍ خوړله چې دا ايت را نازل شو: فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ. وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ [الزلزال ۷-۸] ژباړه: نوبياچې يوه ذره غوندې نيکي چا کړې وي، هغه به وګوري. اوچاچې ذره غوندې بدي کړې وي، هغه به وګوري. نو ابوبکرصديق رض ډوډۍ بس کړه او ويې ويل: يارسول الله! مونږ چې هر بدکار وکړو، جزا به يې راکول کيږي؟ پيغمبر) ص) ورته وويل: تاسو چې کوم کړاوونه په دنيا کې وينئ، دا د بدو عملونو بدله ده او د ښو علمونو بدله به په اخرت کې درکولای شي ([1]). ابو ادريس خولاني (رح) وايي: دابو بکرصديق رض دخبرې په ځواب کې پيغمبرε وويل: ای ابو بکر! تاسې چې په دنيا کې کوم کړاوونه وينئ دا د بدو کارونو په بدله کې را منځ ته کيږي او د نيکو کارونو بدله يو ځای کولی شي او د قيامت په ورځ به درکولای شي او د دې خبرې تصديق د الله تعالی د کتاب له دې ايات څخه کيږي: وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ[الشورى/۳۰] ژباړه: او تاسو ته چې کوم مصيبت در رسيږي نو ستاسو دخپلو لاسو له عمله وي او له ډېرو (لا) تيريږي هم . ([1]). ابوبکرصديق رض وايي: زه پيغمبرε سره ناست وم چې دا ايت را نازل شو: مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ وَلاَ يَجِدْ لَهُ مِن دُونِ اللّهِ وَلِيًّا وَلاَ نَصِيرًا[النساء /۱۲۳] ژباړه: چاچې ناوړه کار وکړ دهماغه بدله ورکول کيږي، اوځان ته به له الله پرته نه کوم دوست مومي اونه څوک مرستندوی. نو پيغمبر) ص) راته وويل: ای ابوبکر! اوس چې کوم ايت نازل شو، تاته يې واوروم؟ ما وويل: ولې نه! يارسول الله! پيغمبر) ص) همدا يات راته ولوست؛ نو ناڅاپه پر ما داسې حالت راغی چې ماويل که ملامې ماته شوه او زګيروي مې پيل کړل، پيغمبر) ص) راته وويل: ابوبکره! په تا څه وشول؟ ما ورته وويل: يارسول الله! په مونږ کې څوک داسې شته چې هيڅ بد او ناوړه کار يې نه وي کړی؟ او چې دهر کار بدله راکول کيږي دا به څه کوو؟ پيغمبر) ص) وويل: ای ابوبکر! تا او نورو مؤمنانو ته به دبدو کارونو بدله په دنيا کې درکول کيږي او چې خدای پاک ته ورځئ له ګناوو به پاک ياست، او د نورو ګناهونو به جمع کولای شي اود هغوی بدله به د قيامت په ورځ ورکولای شي ([1]). په يو بل حديث کې ابوبکرصديق رض وايي: پيغمبرε ته مې وويل: يارسول الله! الله تعالی وايي: مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ (څوک چې بدکار وکړي جزا به ورکول کيږي) نو دا به څه کوو چې د هر بدکار جزا راکول کيږي؟ پيغمبرε راته وفرمايل: ابوبکره! خدای دې تا وبښي! ايا ته کله ناروغه کيږې نه؟ کله ستړی کيږې نه؟ کله غم نه در پيښيږي؟ کله تکليف نه در رسيږي؟ کله په مصيبت کې نه اخته کيږي؟ ماوويل: هو! دا هرڅه را پيښيږي، راته يې وفرمايل: همدا په دنيا کې د (ځينو) ګناهونو بدله ده (1). محمد بن منتشر (رح) وايي: يو سړي حضرت عمر رض ته وويل: په قرآن کريم کې يو ايت ډير ګران دی، حضرت عمر رض ور وړاندې شو هغه يې په دوره وواهه ورته ويې ويل: ايا تا يې ژوره پلټنه کړې ده؟ خير! هغه سړی لاړ؛ خو چې په سبا بيا راغی حضرت عمر رض پوښتنه ترې وکړه چې تا پرون د کوم ايت په هکله خبره کوله؟ هغه ورته وويل: (مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ) بيايې وويل: نو مونږ چې هر بدکار وکړو جزا به يې هرو مرو راکول کيږي؟ حضرت عمر رض ورته وويل: دا ايت چې را نازل شو نو مونږ ته تر ډېره خوراک او څښاک خوند نه راکاوه، خو بيا خدای پاک مهرباني وکړه او دا ايات يې را نازل کړه : وَمَن يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّهَ يَجِدِ اللّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا[النساء/۱۱۰] ژباړه: او چاچې بدي وکړه يا يې پر خپل ځان ظلم وکړ بيا يې الله نه بخښنه وغوښته نو الله تعالی به مهربان ښنونکی بيا مومي ([1]). ثعلبه انصاري رض وايي: عمرو بن سمرة رض پيغمبرε ته راغی او ويې ويل: يارسول الله! ما د فلاني قوم نه يو اوښ پټ کړی دی، نو ماله دې ګناه څخه پاک کړه، پيغمبرε هغه قوم ته استازی واستاوه تر څو پلټنه وکړي چې رښتيا هم د هغوی اوښ ورک شوی دی که څنګه؟ له پلټنې وروسته څرګنده شوه چې پيښه رښتيا ده، نو امر يې وکړه چې لاس ترې پرې کړئ! راوي وايي: کله چې له ثعلبه رض نه لاس پرې کړل شو او په ځمکه وغورځيد؛ نو ما ورته کتل چې (نوموړي خپل لاس ته کتل) او ويل يې: ټولې ستاينې هغه ذات لره دي چې زه يې ستانه پاک کړم، کنه نو تا خو غوښتل زما بدن دوزخ ته واچوې ([1]). حسن (رح) وايي: عمران بن حصين رض ناروغ و، يو څو ملګري يې پوښتنې ته راغلل يو ملګري ورته وويل: مونږ ستا ناروغۍ ته ډېر پريشانه يو، هغه ورته وويل: تاسو مه پريشانه کيږئ! دا هرڅه زما د ګناهونو له امله دي او کومې ګناوې چې خدای پاک همداسې ښني هغه خو تر دې ډيرې زياتې دي بيا يې دا ايت ولوست: وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ [الشورى/۳۰] ژباړه: او تاسو ته چې کوم مصيبت در رسيږي نو ستاسو د خپلو لاسو له عمله وي او له ډيرو (لا) تيريږي هم ([1]). ابو ضمره بن حبيب (رح) وايي: د ابوبکرصديق رض د يو زوی د زنکدن حالت و او خواته يې يو بالښت ته کتل، هغه چې کله وفات شو خلکو ابوبکرصديق رض ته وويل چې ستا زوی د زنکدن په وخت کې دغه بالښت ته ډېر کتل، هغوی چې بالښت را پورته کړ لاندې ترې پنځه شپږ ديناره پراته وو، ابوبکرصديق رض چې وليدل بيا بيا يې انا لله و انا اليه راجعون وويل او له ډېر افسوس څخه يې د ښنوتلي موړل او ويې ويل: زه فکرکوم چې ستا پوستکی به د دې دينارو جزا و نشي ګاللای ([1])

مفتي محمد بشار

## فرمان عاليقدرامیرالمؤمنین حفظه الله تعالی

فرمـــان شـــماره 31 مـــورخ 1443/9/4 عاليقـــدرامیرالمومنین حفظـــه اللـــه تعـــالی در رابـــط بـــه کشـــت، توليـــد، ترافيـــک، قاچـــاق واســـتعمال مـــواد مـ خدر ومســـکرات در کشـــور مـــا افغانستان مطلق منع قرارداده شده است.

**موادم خدر و مســـکرات عبـــارت انـــد از** : ترياک، کرســـتال، چـــرس، مـــوروفين، پـــودر، شيشـــه، هيـــروهين، تابليـــت K، مشرـــوبات الکـــولی، مشـــتقات کيميـــاوی ديگـــر وغيره می باشد.

قرارفيصـــله مصـــوبه شـــماره ( 21 ) کابينـــه امـــارت اســـلامی افغانســـتان دررابطـــه بـــه فرمـــان عاليقـــدرامیرالمومنین حفظـــه اللـــه، کشـــت کوکنـــار در کشـــور بـــه طـــور مطلـــق منمـــوع ميباشـــد. چـــون مـــواد مـ خدر يکـــی از تهديـــدات جـــدی اســـت کـــه امنيـــت ملـــی کشـــور مـــا را بـــه خطـــر مواجـــه مـــی ســـازد و مـــانع حاکميـــت قـــانون ميگـــردد جـــرايم و فســـاد را حمايـــت مينمايـــد. انعـــده ازاشخاصـــيکه کوکنارکشـــت مينماينـــد بـــا درنظرداشـــت ايـــن فرمـــان، وزارت محـــترم اموراخلـــه امـــارت اســـلامی (معينيـــت مبـــارزه عليـــه مـــواد مـ خدر ) وادارات ذيـــربط در پرتـــو قـــانون مبـــارزه عليـــه مـــواد مـ خدردارای مکليفـــت هـــای قـــانونی ميباشـــد. کـــه بطورواضـــع درقـــانون مبـــارزه عليـــه مـــواد مخدرذکرگرديـــده است.

وزارت دفـــاع ملـــی امـــارت اســـلامی افغانســـتان بمنظورجلـــوگيری از شـــموليت افـــراد معتـــاد بـــه مـــواد مـ خدر در صـــفوف اردوی اســـلامی ملـــی در مســـوده پاليســـی مبـــارزه عليـــه موام خدر، مشـــخص نمـــوده اســـت وهمچنـــان در راســـتای مبـــارزه عليـــه مـــواد مـ خدر نقـــش حمايـــوی داشـــته و در صـــورت ضرورت وزارت محـــترم اموراخلـــه (معينيـــت مبـــارزه عليـــه مـــواد مـ خدر) را کمـــک، همکـــاری وحمايت مينمايد.

والسلام

## ....تبصره

**پدي خبره کي هيڅ شک نشته چي په ګران هيواد کي د سولي، امنيت او خلکو ته هوسايي او سوکالي په ګته ژور تحولات، بدلونونه او انکشافات منځته راغلي چي د هرې ورځې په تېروېدو سره لاښه کيږي.**

**د دغو هراړخيزو پرمختياوو او برياوو برسېره، زمونږ هيوادوالو ته د کار او سوله يزژوند زميني برابرې شوې دي او د روښانه راتلونکي په اميدواري ګامونه دپورته کېدو په حال کې دي.**

**ددغو سترو لاسته راوړنو په سر کي د دفاعی او امنيتي ځواکونو او په خاصه توګه د اسلامي ملي اردو جوړښت او پياوړتيا د سولي او ثبات د ټينګښت په لاره کي هغه ارزښناک، اسلامي، ملي او تاريخي ګامونه دي چې په نږدې شل مياشتو کې اخستل شوې دي او په پوره پاملرنې سره ادامه لري.**

**اوس مهال د اسلامي ملي اردو ليکي پراخې او غښتلي شوې دي او د هيواد په ګوټ ګوټ کي په خپلو اسلامي او ملي دندو کي په قول اردوګانو، لواګانو، تعليمي مراکزو او تحصيلي موسسو کي په عصري وسلو، تخنيک، وسايلو او تجهيزاتو سمبال او په لوړ مورال، د وطن پالني په روحيې خپلې ورسپارلې دندې ترسره کوي.**

**د اسلامي ملي اردو په ليکو کي د افغان مجاهد ولس باتور بچيان سره راټول شوي او خپلو خلکو په ملاتړ غښتلي او د دوی په خدمت کې دي.**

**د اسلامي ملي اردو په ليکوکې د افغان ولس د ټولو پرګنو بچيان د وروروالی په فضا کې د ملي مصالحو، اسلامي او ملي ارزښتونو ته په پام کي نيولو او درناوي د خپل هيواد ځمکنی بشپړتيا، خپلواکي دفاع او ساتنه خپل ملي او اسلامي وجيبه بولي او هغې ته په وفادارۍ خپلې وظيفي اجراء کوي.**

**اوس د اسلامي ملي اردو ټولو ځواکونو په خپلواکه توګه خپل کړنې تنظيم او په هره برخه کې لاسته راوړنې لري.**

**د ملي اسلامي اردو ټول ځواکونه د يواځني افغانستان د لوړو ګټو د خونديتابه په پار هر ډول قربانۍ ته چمتو دي، په اقوامو او احزابو نه دي وېشل شوي، بلکې تر يوې قومندې لاندې د يو متحد ځواک په توګه پر مخ درومي له همدې امله د ټول ملت هيلې ورپورې تړلې دي.**

## د مجاهد خاطرې

دويرونو او غمونو له اوړدو کېسو ورسته ميدان وردګو ولايت ته څيرمه سيمې ته لاړو او هلته مو د ياد ولايت له والي او جهادي مسؤل الحاج ملاولي جان حمزه سره وليدل. هغه چې د علماو او ولسي خلکو په منځ کې و، په ورين تندي يې ښه راغلاست راته ووايه او دميدان وردګو په تازه وضعيت راسره وغږيده. له حمزه صاحب نه مي تر هرڅه وړاندی د دې ولايت د نظامي وضعيت، فتوحاتو او مهمو لاسته راوړنو په اړه پوښتنه وکړه چې هغه يې په ځواب کې راته وويل: د شکر ځای دی چې ميدان وردګ تر نورو ولايتونو او سيمو زيات په امن کې دی، مونږ زياتې لاسته راوړنې لرو چې تاسې له نږدې وليدلې. دښمن په يوه، يوه کلاکې محاصره پاتې، يو تربله تګ راتګ نشې کولی، اکمالات يې د هوا له لارې کيږي اوله سيدآباد ولسوالی پرته ټولې ځمکنی لارې پرې تړل شوې دي. نوپرهمدې بناء ويلی شم چې د دې ولايت ټولې منطقې دمجاهدينو په لاس کې دي، د داخلي عسکرو زياتره پوستې او داردو بيسونه نيول شوي او پر ډيرو سيمو زمونږ دملګرو ولکه ټينګه ده.

-حاجی والی صاحب!که په لنډلو کې راته وواياست چې په کومو ولسواليو کې مجاهدين تر نورو زيات فعال حضور لري؟!

-ښايي تاسې ټولو ته معلومه وي چې دميدان وردګو زياتره ولسوالی زمونږ په لاس کې دي او بعضې داسې ولسوالی دي چې په هغو کې بيخی د دښمن وجود نشته، له هغې دلې د جلګې ولسوالی دبليګې په توګه ليدلی شئ.

په عمومي توګه ټولې ولسوالی او سيمې له مجاهدينوسره دي، يواځې د ولسواليو مرکزنو دي چې دشمن پکې اوسېږي. مونږ چې مجلس ته راتللو ستاسې په شاوخواکې مو ګڼ ولسي خلک او مخور وليدل، پر همدې اساس پوښتنه کوم چې دلته له مجاهدينو او تاسې سره ولسي خلکو چلند څنګه دی؟

لله الحمد ! ولس راسره د ورونو په څير چليږي او زياتره سپين ږيرو اومخورو سره منظمي غونډې لرو چې د سيمو په بيلا بيل ستونزو او مسايلو سره خبرې کوو.

زه خپله په لنډ وخت کې جلريز ولسوالی ته تللی وم او هلته مو د سيمې له مخلصو قومي مشرانو سره وليدل او دهغو اړينو مشورو په تړاو سره وغږيدلو چې بايد يو تر بله مو رسولې وای، نو د شکر ځای دی چې زمونږ او دولس تر منځ وخت ناوخته ستړي ناستي ترسره کيږي او دخپل منځ کې پياوړي هماهنګي لرو. محترم والی صاحب! له جهادی بريا ها خوا که په همدي ولايت کې د تعليمي بهير په اړه راته وغږيږئ چي دلته څومره ښوونځي او مدرسي فعاليت لري؟

- الحمدلله دلته پوهنيز جريان ښه روان دی، زمونږ د تعليم او تربيې ارګان فعال دی په زيات عدد مکاتب، ليسې او نږدې۳۰۰ مدرسې لرو چې زرګونه زده کوونکي لري او چټک درسونه پکې وايي، دتعليمي مراکزو مسولين خپلو دندو ته ښه متوجه دي او مونږ هم تر ډيره ورسره همکار يو.

- داچې ډيرې سيمې د مجاهدينو په والکه کې دی، په همدغو مفتوحه ځايونو کې دبيا رغونې کارونه څنګه روان دي؟

-ښه دي! مونږ په ټولو هغو امکاناتو چې په وس کې يې لرو، خپل ولس ته کاری زمينې مساعدې کړې او دبيا رغونې کارونه مو پيل کړي، په کومو برخو کې چې دولس ضرورت وي، مونږ ورسره پوره همکار يو.

- والی صاحب! تېرې دوې لسيزې بيخي خونړۍ وې. اوس شکر فتحه را نږدې ده، نو که ځينې عام خلک څه انديښنه ولري، تاسې هغوی ته څه ډاډ ور کولی شئ چې راتلونکی اسلامی امارت به څنګه وي؟

ولس ته ډاډ ورکوو چې اسلامی امارت به د تل په څېر منظم او برابروي. د اسلام او اولس په حق کې به کومه کوتاهي نه کوي او هميشه به مجاهدين د ولس په څنګ کې پاتې کيږي.

ـ حاجی والي صاحب د نورو موضوعاتو په اړه سره وغږېدلو، دا چې ميدان وردګ پلازمينې کابل پر امنيتي وضعې مستقيما اغېز لري، **ادامه لري ۴صفحه...**

# د کابل ریشخورو فرقې په ګارنیزیون کې ۲۲۵ عرادې بېلابېل ډول وسایط ترمیم شول

د ملي دفاع وزارت اړوند د کابل ریشخورو فرقې د ځانګړو ځواکونو ګارنیزیون په قوماندانۍ کې د اړوند جزوتامونو ۲۲۵ عرادې نظامي وسایط چې په تېرو څو کلونو کې تخریب شوي وو، د مسلکي انجنیرانو له لوري د دوهم ځل لپاره ترمیم او کټې اخیستنې ته چمتو شول.









## اعداد داسلام له نظره

**الحمد لله وكفى، والصلاة والسلام على محمد المصطفى، وعلى آله النجباء، وأصحابه الأتقياء، ومن بهديهم اهتدى، وبآثارهم اقتفى، من المفسرين والمحدثين والفقهاء إلى يوم الجزاء، أما بعد: فقد قال الله تعالى:**

**{ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ} [الأنفال: 60]. ژباړه:** او تر خپلې وسې د هغوی (د مقابلې) لپاره ښه ځواك او روزل شوي آسونه چمتو کړئ چې په هغه سره هم د الله او هم خپل غلیم ووېروئ او (ان) هغه نور (غلیمان) چې تاسو یې نه پېژنئ، یوازې الله یې پېژني او څه چې د الله په لار کې لګوئ، اجر به یې پوره پوره درکړل شي او پر تاسو به ظلم نه کيږي.

وقال النبي صلى الله عليه وسلم: «كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَإِنَّهُ يَنْمُو عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَيَأْمَنُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ» [1]. **ژباړه:** د هر مړي پر اعمالو (د پای ته رسېدو) مهر لګول کیږي خو هغه تن چې د الله په لاره کې (د اسلامي دولت) د پولو ساتلو په لړ کې مړ شوی وي؛ د نوموړي عمل (له مړینې وروسته) تر قیامته وده کـــــوي او د قـــــبر له فتنـــــې څخـــــه هم خونـــــدي وي.

په افغان ملت د الله جل جلاله سترې پېرزوینې کړي دي چې له دغو پېرزوینو څخه یوه یې دا ده چې د دوی پرمټ الله جل جلاله د نړۍ درېمه ستره امپراطوري ماته کړه، په دې بریا کې دوه عنصر- ونه مادي او معنوي رول لري، که څه هم په مادي عنصر چې اسباب دي په دې کې مقابل طرف ډېر غښتللی او پرمختللی وه خو ورسره معنوي عنصر نه وه. اوس چې لله الحمد اسلامي امارت حاکم دی، دېته زمینه مساعده شوې ده چې د جهاد په دواړو برخو اساسي کارونه او هلې ځلې ورته ترسره شي، مادي اسباب ترلاسه او ځواکونه پرې سمبال شي، ځکه چې دا دنیا دار الاسباب دی او له معنوي عنصر سره چې څومره پرمختللي مادي اسباب وي، هماغومره به دوښمن په رعب او وېره کې وي او د جهاد اهداف او موخې به په لنډ وخت، کمې قربانۍ ترلاسه کيږي. همداراز په اوسنۍ نړۍ کې د جګړې ډګرونه هم زیات شوي دي لکه فکري، اعلامي، بري، بحري، فضائي، صحي ډګرونه.

همدغو دواړو اړخو ته په کتو علماء د دې آیت په تشریح کې لیکي چې جهاد ته چمتووالی ګڼ شمېر اړخونه لري چې لاندې په مجمله توګه همدغو برخو ته کتنه کيږي:

1. اعتقادي چمتووالی
2. روحي او نفسي چمتووالی
3. سیاسي چمتووالی
4. نظامي چمتووالی

**اعتقادي چمتووالی:**

په دې برخه کې د ځواک په عقیدې کار کیږي، د الله جل جلاله مینه، د اسلام او د اسلامي شعائرو څخه د دفاع روحیه په کې پیاوړې کیږي او دنیوي مفاد او ګټه، لکه منصب، مال، شان او شوکت او داسې نورې نزعاتې یې له ذهنه ایستل کیږي.

د جګړې دوه پاروونکي دي:

**اول** دنیوي ګټه او له حاکم نظام څخه وېره: ډېری ځواکونه چې جګړه کوي، موخه یې دنیوي ګټه او هغه اسانتیاوې وي چې یوه حاکم نظام خپلې اردو ته چمتو کړي وي، همداراز له حاکم نظام سره د ترسره شوي تعاقد او د تخلف په صورت کې د سزا له وېرې څخه ځواکونه کله ناکله داسې جګړو کې ښکېلېږي چې عقیده او باور یې ښکېلتیا نه ایجابوي.

**دوهم** د ایمان او عقیدې له مخې جګړه: دویم باعث بیا ایمان او عقیده ده، د اسلامي نظام ساتنه او د اسلامي شعائرو درناوی دی چې په دغو دواړو بواعثو کې لاندې توپیرونه لیدل کیږي:

**الف:** هغه ځواک چې د مادیاتو یا د حاکم نظام له وېرې جګړه کوي، جګړه یې پر مادیاتو متکي ده، رضاکاران په کې شتون نه لري او که د مادیاتو اتکا یې لیرې یا څپڅپانده شوه؛ نو د ځواک ځنځیر شلیږي او افراد یې تښتي.

خو هغه ځواک چې ایمان او عقیدې یوځای کړي وي، حتی که د ژوند لومړنۍ اړتیا خوراک هم ورته ونه رسیږي، وحدت او صف یې نه متزلزل کیږي او نه هم ترمنځ یې کډوډي رامنځته کیږي، په دې لړ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غزواتو کې ګڼ شمېر مثالونه او بېلګې شتون لري.

**ب:** هغه ځواک چې یوازې پر مادیاتو متکي ذهنیت لري، د جګړې په ساحه کې د خپلې وړتیا لس سلنه طاقت نه مصرفوي، او زیات تمرکز یې د جګړې د ګټلو په پرتله ځان ساتنې، تېښتې خیانت ته وي.

خو په بل اړخ کې بیا د ایمان د قوت پر بنسټ ځواک قرباني وړاندې کوي او له هغه عقیدې دفاع کې خپل ځان قربانول هم ورته داسې ښکاري چې حق یې نه دی ور ادا کړی.

**ج:** همداراز په لومړي صورت کې جګړه یو ماموریت ګڼل کیږي او په دویم صورت کې تر ټولو ستر عبادت چې په اړه یې له ترسره کوونکي سره په قران کریم او احادیثو کې سترې وعدې شوي دي.

**د:** دغه راز که په لومړي حالت کې بریا خپله نه شي او ځواک له منځه لاړ شي، ستره ضائعه ګڼل کیږي خو په دویم اړخ کې بیا ځواک خپل مسؤولیت ادا کړی، دیني فریضه یې پرځای کړې او له الله جل جلاله سره یې ګټمنه سودا ترسره کړې ده.

له همدې امله اړینه ده چې د ځواک اعتقادي برخې ته اړینه پاملرنه وشي او له نورو ټولو برخو څخه دا برخه تر ټولو مؤثره، اغېزمنه او بریا ته نژدې ده.

**ادامه لري ۴...**

## لیدلوری/ دیدگاه

حفظ تعادل در روابط و داشتن مناسبات حسنه با کشورهای منطقه و جهان همیشه یکی از عوامل عمدهٔ ثبات در کشور ما بوده است. هرگاه که این توازن بهم بخورد و روابط ما با کشورهای مهم جهان دچار آسیب و گسست میشود، شرایط منطقه‌ای نیز در مسیری قرار خواهند گرفت که مردم و کشور ما از آن متضرر خواهند شود.

امارت اسلامی افغانستان با درک روشن از عوامل جغرافیایی افغانستان و منطقه، آسیب‌هایی را که به روابط کشور ما وارد شده، شناسایی و ارزیابی نموده و در حال تأمین و تقویت مناسبات نیک با کشورهای نزدیک و دور است، تا افغانستان دیگر شاهد بی ثباتی نباشد و در برابر چالش‌هایی که تهدید مشترک برای افغانستان و منطقه است، تنها نماند.

خارج ساختن افغانستان از محاصرهٔ جغرافیایی و مساعد ساختن فرصت های ترانزیتی تازه برای تاجران کشور و تسهیلات جدید برای واردات و صادرات، از جملهٔ این اقدامات محسوب میگردد.

دیدگاه ها برآنست که مدیریت سالم موقعیت ممتاز جیوستراتیژیک و اوضاع داخلی، تعاملات سیاسی منطقه رابه نفع ما رقم خواهند زد.

امروزه نیز با توجه به منابع غنی در آسیای مرکزی و این که اقتصاد یکی از متغیرهای تعیین کننده به شمار می‌رود، افغانستان با دارا بودن موقعیت تجارتی (دروازه تجارت جهانی) به عنوان یک معبر تجارتی مطرح است. شاید کشورهایی در منطقه و فرامنطقه تلاش نمایند تا با وارد آوردن فشارها، روحیهٔ اسلام خواهی و حاکمیت اسلامی را در بین مردم مسلمان و مجاهد افغانستان خدشه دار سازند اما مردم دیندار و آزاد ما تحت رهبری و زعامت عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله توانسته اند از توطئه ها و دسایس قامت راست کنند و در مدت کمتر از دوسال کشور شان را به سمت و سوی شگوفایی استقامت داده و به زنده گی عادی شان ادامه دهند.

**د ۲صفحې پاتې برخه...** نو که د ولايت دامنيتي وضعيت او روان بهیر په اړه معلومات راکړئ؟!

-شکر، الحمدلله د میدان وردګو ولايت دمرکز په ۳کیلومترۍ کې مجاهدين فعالیت کوي، په ډېرو ستراتیژیکو سیمو کې کمر بندونه لري چې د مرکز تر ودانۍ پورې یې مرمۍ رسېږي او که وغواړو چې لا زیات پر مختک وکړو، نو بیخی شونې ده!

-له مجاهدینو سره ولسي خلکو خواخوږي څومره ده؟

- دا چې دا ولس مجاهد ولس دی، له مجاهدينو سره زياته خواخوږي لري او د هغوی هر غږ ته لبیک وايي.

-که د وروستی پوښتنې په توګه راته ووایاست چې په ټوله کی عام ولس اوپه ځانګړی ډول مجاهدینو ته پیام لرئ؟ ولس ارمان درلود چه سیمې یې له ظالمو یرغلګرو خلاصې شي، ځکه د هغوی مال او ځان په خطر کې وو، اوس یې ناموس خوندي او سرونه په امن کې دي.

له هغوی غواړم چې د رب شکر اداء کړي او له مجاهدينو سره خپله راشه درشه دوامداره وساتي.

مجاهدينو ته دا پیغام لرم چې د خپل ولس، علماو او مشرانو عزت او احترام وکړی. کوښښ دي وکړي چې خپل مسیر تري خطاء نشي.

له والی صاحب سره مو مرکه تمامه شوه او په موسکا، موسکا مو خدای پاماني تري واخیسته.

را اخستل شوی د تراژیدیو مستند داستان څخه

د۳ صفحې پاتې برخه...

## روحي او نفسي چمتوالی

په دې برخه کې د ځواک روحي او نفسي- برخه غښتلي کيږي، داسې چې د ځواک هر فرد کې ټول هغه ضروري حسنه اخلاق شتون ولري لکه زړورتیا، اقدام او اقتحام، ځان ندرانه کول، زغم، چټکتیا او هغه اخلاق چې ظروف او مکان یې غوښتنه کوي. د جهاد دا چمتووالی له نفس سره په مبارزه پیل کیږي، یو تن چې پر نفس نه شي برلاسه کېدای نه شي کولای چې پر دوښمن برلاسه شي، همدې استعداد او چمتووالي ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې اشاره کړې ده: «مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ» (1). له حدیث څخه معلومیږي چې په ځواک کې باید روحي استعداد شتون ولري او نښه يې دا ده چې له ځواک سره همېشه د جهاد فکر، غم او هم وي او په نفسیاتي توګه باید په هرځای او په هر ډول ظروفو کې چمتو وي، د دې روزنې بېلګې په ګڼ شمېر صحابه وو کې لیدل کېدې، حنظله رضي الله عنه یې ښه بېلګه ده چې د واده په شپه پرې غږ کیږي او نومړی ورته چمتو دی.

## سياسي چمتوالی

اړینه ده چې له سیاسي پلوه هم ځواک ورزول شي، داسې چې ځواک باید خپل دوښمن هر اړخیز تحلیل کړي، د دوښمن د طاقت حجم ځان ته معلوم کړي، سرحدونه او د ضعف نکات یې و پېژني، د هغوی د جګړې تکتیکونه او طریقې وپېژني، وسله او ټیکنالوژي او نور اړوند جنګي اوزار او اړیکې یې ځان ته معلوم کړي. په لاندې آیتونو غور کوو:

{أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (11) لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِنْ قُوتِلُوا لَا يَنْصُرُونَهُمْ وَلَئِنْ نَصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ (12) لَأَنْتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِمْ مِنَ اللَّهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ (13) لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُحَصَّنَةٍ أَوْ مِنْ وَرَاءِ جُدُرٍ بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّى ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ} [الحشر: 11 - 14]. په دې آیتونو کې الله جل جلاله مسلمانانو ته د خپل دوښمن اته ضعیفې نکتې په ور ښيي:

- ✓ ترمنځ یې نفاق دی، اتحاد او وحدت ترمنځ نه لري.
- ✓ مقاومت نه شي کولای او د جګړې له میدانه تېښته کوي.
- ✓ د مسلمانانو له ځواک څخه ډېر زيات ویرېږي.
- ✓ ناپوهه او تفقه نه لري.
- ✓ یوازې په میډیايي او اعلامي جګړه خوښوي او مخامخ جګړې وړتیا نه لري.
- ✓ د ځواک ترمنځ یې اړیکې او تعلقات مظبوط او پیاوړي نه دي.
- ✓ کم عقل او احمقان دي.

**نظامي چمتوالی:**

نظامي چمتوالی دېته وايي چې د دولت په آډانه کې نظامي جوړښتونه شتون ولري چې له دغو ارګانونو څخه یو یې د دفاع وزارت دی.

نن نړۍ چې هر هېواد د بل هېواد غلیم او په کمین کې ورته ناست دی، د دې انتظار باسي چې له هر فرصته په کې لاسوهنه وکړي، اړینه ده چې هر دولت او حکومت ځواک ولري او داسې نظامي اوزار جوړ کړي چې د دوښمن د سترګو اغزی شي، له همدې امله په نړۍ کوم هېواد له ځواک پرته شتون نه لري.

خو دا په دې معنا نه ده چې هر دولت دې جګړه وکړي، بلکې په عامه توګه ځواک د امن په حالت کې تنظیمیږي، سمبالیږي او د جګړې په زمانه کې بیا د جګړې ډګرونو ته ور دانګي، له همدې امله مسلمانانو ته هم حکم شوی دی چې د امن له فرصت څخه په ګټه اخیستنه، د جنګ حالت ته بشپړ چمتووالی ولري او نظامي ځواک او سمبالښت ته یې پام ور واړوي، چې د مقالې د سریزې په آیت کې همدا حکم موږ ته متوجه دی.

نظامي چمتووالی بیا درې برخې لري:

**الف: جسماني چمتووالی:** دېته وايي چې د ځواک د هر فرد بدن او جسم په ځانګړو تمرینونو او خوراکي رجيم چمتو شي چې د جګړې او د ځانګړو جګییزو اوزارو د استعمال جوګه او بدني وړتیاوې یې لوړې شي، دغه راز له هغو خوراکونو څخه یې مخنیوی وشي چې بدن ته یې تاوان رسوي یا یې ورسره بدني طاقت کمزوری کیږي. ب: **نظري چمتووالی:** ضروري ده چې د هېواد ځواک د جګړې پر عامو اساساتو، مبادئو خبر وي، د بېلابېلو وسلو په طبیعت او استعمال او د جګړې په تکتیکونو معلومات ولري، بري، بحري او فضايي جګړو سره آشنا او د نفساني جګړې له اسبابو او درملو باخبره وي، همداراز د زمان او مکان د بدلون له پلوه د جګړې په نمط او شیوه کې په بدلون کافي معلومات ولري.

**ج: عملي چمتووالی:** د نظري زده کړو ترڅنګ عملي زده کړې، د وسلو استعمال او بېلابېل پوځي تمرینونه او مناورې هم اړینې دي څو له جګړې مخکې نظري پوهه په ډګر کې په عمل بدله کړای شي او د اړتیا پرمهال پر عمال قادر وي.

**وما توفيقي إلا بالله عليه توكلت وإليه أنيب**

**د سپېڅلو کلماتو سپکاوی لویه ګناه ده او ستاسې ایمان او وجدان تر سوال لاندې راولي.**

## د ملي دفاع وزارت د سر مفتشیت له تخصصي روزنیز څخه ۲۵ تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت د سر مفتشیت له تخصصي روزنیز څخه ۲۵ تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت په تالار کې د سرمفتشیت د تخصصي روزنیز د کورس له څلورمې دورې څخه د سیمیزو قول اردوګانو، قطعاتو او جزوتامونو ۲۵ تنه مجاهدين له دوه میاشتنی زده کړو څخه وروسته نن د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترځ کې فارغ شول .دغه مراسمو کې د مسلح قواوو مرستیال حاجي مالي خان "صدیق"، د یاد وزارت سرمفتش مفتي لطیف الله "حکیمي" د مالیې وزارت د ارتقاء او ظرفیت لوړونې رئیس شېر زمان "بلوڅ" او ګڼ شمېر رئیسانو او منسوبینو ګډون درلود .د مسلحو قواوو مرستیال حاجي مالي خان " صدیق" په وینا کې یاد فارغان خپلو مسؤلیتونو ته متوجې کړل او زیاته یې کړه چې موږ باید د شریعت پابندي وکړو او تاسو خپل کارونه په اخلاص او صداقت سره ترسره کړئ .همدا راز سرمفتش مفتي لطیف الله "حکیمي" په خبرو کې زیاته کړه چې د یو کس په پلټنه کې ډېر دقت کوئ لومړی د ښو او بدو تفکیک وکړئ وروسته بیا عمل ترسره کړئ، په پای کې یادو فارغانو ته تصدیق پاڼې هم ورکړل شوې.

## از ۱۰۵ تن داوطلب شمولیت به اکادمی ملی نظامی حضرت عبدالله بن محمد امتحان اخذ گردید

امتحان ورودی ۱۰۵ تن از داوطلب شمولیت به اکادمی ملی نظامی حضرت عبدالله بـن محمـد "ص" امـروز در تـالار عمـومی کنفرانس پوهنتون دفاعی حضرت ابو عبیده بن جراح "رض" اخذ گردید.

این امتحان با حضور داشت مولوی عبدالقیوم "الیاس" قوماندان پوهنتون دفاعی، اعضای کمیته و استادان برگزار شده بود.

قرار است از میان این تعداد اشتراک کننده ۳۰ تن آنان برای یک دوره چهار ساله در اکادمی ملی نظامی حضـرت عبـدالله بـن محمد "ص" جذب شوند.

## له ۲۱۵ عزم قول اردو څخه ۱۹۶ تنه مجاهدین فارغ شول

د ملي دفاع وزارت اړوند ۲۱۵ عزم قول اردو د بېلابېلو جزوتامونو ۱۹۶ تنه مجاهدين د مسلکي زده کړو (مخابره، دافع هوا، میډیک، سواد آموزۍ، هاوان او سناپر) لپاره د ښوراب ښوونیز مرکز ته معرفي شوي وو نن د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترځ کې فارغ شول. دغو مراسمو کې د یادې قول اردو ګڼ شمېر مسؤلینو، منسوبینو او مجاهدینو ګډون کړی وو. مسؤلینو په ویناوو کې یاد فارغان خپلو راتلونکو دندو ته متوجې کړل او همدا راز نوموړو مجاهدينو ژمنه وکړه چې د هیواد په هر ګوټ کې به د خپلو مشرانو د لارښوونې مطابق قدم اخلي او د خپل هېواد له ملي نوامیسو، او سرحدونو څخه به دفاع کوي.

## ترمیم ۲۲۵ عراده وسایط در فرقه گارنیزیون ریشخور - کابل

به تعداد ۲۲۵ عراده وسایط نظامی که طی سال های گذشته در جزوتام های فرقه گارنیزیون ریشخور کابل در حالـت تخریـب قرار داشت، در نتیجه ی تلاش های خستگی ناپذیر انجینران مسلکی و تیم های تخنیکی این قوماندانی دوباره تـرمیم و آمـاده ی استفاده قرار گرفت. این وسایط شامل: ۷۵ عراده تانک ضربتی، ۱۲۵ عراده تانک هاموی و ۲۵ عراده انترنیشـنل مـی باشـد. قرار است وسایط ترمیم شده جهت استفاده به جزوتام های مربوطه انتقال یابد.

## غزل

غوټۍ د اُمـیدو مـو سپړېدو ته چمتو شوې
باغچه دپسرلي مو سـرو ګلـو ته چمتو شوې

هجـران ده کډه کړې ستا وصال ته انتـظاريم
زخمي،زخمي پټۍ مو رغـېدو ته چمتو شوې

خوښي کـړي بلبلان وهـي نارې د آزادۍ نور
خفه خواره مورکۍ مو خندېدو ته چمتو شوې

آزاد شولو هــېواد د سره صلیب له استعماره
بس خوله مو دتکبیر خوږو نارو ته چمتو شوې

نورلیکم دا غیرت یې د تاریخ په زرین باب کې
میونده ســتا ملاله! مـو ټپو ته چمتو شوې

چې تل وي له خوږو سره ترخه همېش ملګري
د سـرو ګلونو پاڼه مو اغــزو ته چمتو شوې

په یاد یې تل غـزلې د خوښـۍ حیدري لیکه!
نور لولمۀ سینه مو ســتا شعرو ته چمتو شوې

محمدآغا "حیدري"



## د اردو زلمکیه!

ستا امیر امر درته کړی چې په رسمي وخت کې نظامي یونیفورم اغونده، چې تا یې مشرې منلې نو اطاعت یې هم درباندې واجب دی.

که ته یونیفورم واغوندې منظم برېښې او د اطاعت له امله به ثواب هم ترلاسه کړې.

هو، د دې یونیفورم له اغوستلو سره سم باید په ځان کې بدلون راولې، د یونیفورم هیبت او عزت به ساتې، سلوک، خبرې، ناسته ولاړه، ګرځېدل او درېدل، هر کار او هر حالت دې باید د نظم، اطاعت او مسلکیتوب ښکارندويي وکړي.

که له یونیفورم سره هر نامناسب حرکت، خبره او کار وکړې نو نه یوازې دا چې د یونیفورم عزت ته دې زیان اړوې بلکې د اردو حیثت هم تر سوال لاندې راولې او دا جرم بلل کیږي.

**مفتي محمد "بشار"**

## مجاهدین و منسوبین نیروهای دفاعی کشور!

امروز برای شما در هر سطحی که هستید کسب آموزش ها و مهرت های نظامی و هر آنچه که به این مسلک مرتبط میشود، جزو وجایب شما در همه دورهای تعلیمي و تحصلی محسوب گردیده و از ارزشهای واقعی بر خوردار است شما که در صفوف نیروهای دفاعی قرار دارید از امیتاز استثنايي برخوردار هستید و ان اینست که شما دانش و مهارت های نظامی را در سنگرهای جهاد در مدت طولانی در برابر متجاوزین آزموده اید.

مسؤل مدیر: مفتي محمد"بشار"
موبایل نمبر: ۰۷۰۱۰۷۴۵۰
نمبر PBX: ۲۶۷۱۴۳۴
سکرتر مسؤل: عبدالاحد"مدبر"
د ملي دفاع وزارت ویب سایت: www.mod.gov.af
ټویټر: twitter.com/MoDAfghanistan2
یوټیوب: youtube.com/@MODAfghanistan1
ټلیګرام: t.me/MoDAfghanistan2
واتساپ: دفاع وزارت نشراتي ګروپ

دفاع
د ملي دفاع وزارت نشراتي ارګان

ډیزاین او کمپیوز: عزت الله(محمدي)
تخنیکي همکار: خوشحال همت (بابکرخیل)

کتنپلاوي:
مولوي سمیع الله (ساویز)
مولوي محمدآقا (مسلم)
محمدآغا (حیدري)

چاپ چارې: اسلامي ملي اردو مطبعه
چاپ شمیر: ۱۰۰۰ پاڼې